د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

دکونړ ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت




# د کونړ ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ مالي کال د حمل څخه تر حوت پورې

## د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳هـ ش کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 1

د کونړ ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 2

سریزه ........ 5

د کړنو لنډیز........ 6

د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 11

لومړی برخه: کیفیت او تړاؤ ........ 11

۱. ښوونه او روزنه ........ 11

۲. اسلامي زده کړې ........ 13

۳. د کیفیت تضمین ........ 14

۴. سرچینې او اداره ........ 16

۵. د پوهنې ریاست اړوندفعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 18

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 19

۱.ښوونه او روزنه ........ 19

۲. اسلامي زده کړې ........ 23

۳. د کېفیت تضمین پروګرام ........ 25

۴. سرچینې او اداره ........ 25

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 26

۳برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ........ 27

۱. ښوونه او روزنه ........ 27

۲. اسلامي زده کړې ........ 29

۳. د کېفیت تضمین پروګرام ........ 30

۴. سرچینې او اداره ........ 30

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 32

د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 35

تحلیل او پایلې ........ 36

د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې........ 72

مالي راپور تحلیل........ 73

ملپاڼې ........ 74

## د ۱۴۰۳هـ ش کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | ګرځنده شمېره/وټساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| قاري احسان الله (محمود) | د ښوونې او روزنې آمر | Kunar.edu2010@gmail.com | ۰۷۶۴۱۹۰۰۵۴ | |
| مولوي محمد خالد (فیضاني) | د اسلامي زده کړو آمر | Kunar.edu2010@gmail.com | ۰۷۶۴۲۵۶۲۳۵ | |
| الحاج عزیزالرحمن (پیوستون) | د سرچینو او اداري آمر | Aziz.paiwastoon2018@gmail.com | ۰۷۷۷۷۱۱۹۵۸ | |
| جاوید (جواد) | د کیفیت د تضمین آمر | Javid.jawad1@gmail.com | ۰۷۷۷۷۵۰۰۹۵۲ | |
| محمد سعید (ماموند) | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مدیر | saeedmamond@gmail.co | ۰۷۷۰۳۳۳۶۷۹ | |
| رحمت الله (صافی) | د راپور ورکولو مسلکي غړی | Rahmatsafi378@gmail.com | ۰۷۷۹۲۶۴۰۴۶<br>۰۷۰۰۹۵۴۳۹۲ | |
| مسیح الله حسن | د راپور ورکولو مسلکي غړی | masihullahkunar@gmail.com | ۰۷۷۳۴۰۸۴۸۲ | |

**د پوهنې د رئیس تأییدي:**

| نوم | دنده | برېښنالیک | ګرځنده شمېره/وټساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي محیب الله (حیدري) | د کونړ پوهنې رئیس | Muhibullahhaidari21@gmail.com | ۰۷۶۵۲۵۲۳۷۶ | |

## د کونړ ولایت په هکله عمومي معلومات

### کونړ پېژندنه:

کونړ د پخوانیو مؤرخینو په آثارو کې د کنړ- کنیر- کهیوس Khoes - کونړ Kunar- کولو- کونړ او داسې نورو نومونو سره یادشوی دی.
همدا شان کونړ (کو د اوبو د ځاه او رود) معنی لري نو له همدې وجې زیاتره اوسېدونکي یې د اوبو د ځاه یا د اوبو د رود درې په نامه هم یادیږي.
د پوهاند عبدالحی حبیبي د پنځوسو مقالو د پساندونو په یوه برخه کې داسې راغلي دي:
کُنار یعني کونار چې جمله یې داسې په قوس کې لیکل شوې ده (رود دره کاغان شرقي پکهلي ضلع هزاره) دلته مطلب د کوځخه دی چې په نوموړي اثر کې د رود او اوبو په معنی استعمال شوی دی.
کونړ ته کونړونه هم وایې
چې عبارت دی له کوز کونړ ولسوالی چې اوس د ننګرهار ولایت اړوند دی؛ خاص کونړ او بر کونړ اسمار ولسوالی.
د اسمار ځخه پورته او له بریکوټ ځخه ښکته د لوی سیند دره او له وټه پور ځخه پورته د پیچ دره بولي.




### جغرافیایي موقعیت:

کونړ ولایت د افغانستان په ختیځ کې د کابل ځخه په ۲۳۸ کېلومتره فاصله کې پروت دی. چې مساحت یې ۴۵۲۶ کېلومتر مربع دی چې د ټول هېواد ۰،۷۵ سلنه مساحت تشکېلوي.
شمال ته یې نورستان، جنوب ته یې ننګرهار، لویدیځ ته یې د لغمان ولایت او په ختیځ کې د خیبر پښتونخوا سیمې سره په ۱۷۵ کېلومتره اوږدوالي موقیعت لري. چې مرکز یې د اسعدآباد ښار دی چې د بحر د سطحې ځخه ۸۲۷ متره لوړوالی لري.
دا ولایت یو غرنی ولایت دی چې غرونه یې د نښترو، ځیړی، زیتون، او نورو ونو په ځنګلونو پوښلي دي چې د دې ولایت ښکلا یې زیاته کړې، چې د ناړی، غازي آباد، پیچ درې، وټه پور، ځوکی، نرنګ او چپه درې ځنګلونه یې مشهور ځنګلونه دي؛ چې د کونړ نښترو لرګي په نړیوالو بازارونو ښه شهرت لري. د یاد ولایت زیاتره خلک یې په بزګری بوخت دي؛ چې مشهور یې غنم، جوار او شولې دي کرل کیږي.
په کونړ کې زیاتره غوزان، انګور، زردالو، شفتالو، مالتې،نارنج، املوک چې څو قسمونه لري، هندوانې اوداسې نور میوه جات ډیر کیږي.
په عمومي توګه د کونړ سیند ډېر شهرت لري کوم چې په تاریخي اسنادو کې د راسا(RASA) په نوم سره مشهور دی.
دا ولایت د تودې او سړې هوا لرونکي دی چې په ژمي کې د حرارت درجه ۱۲ او په دوبي کې تر ۳۸ درجو سانتي ګراد پورې لوړیږي.
چې ٦ ولسوالی یې د ګرمو سیمو او ۱۰ ولسوالی د سړو سیمو لرونکي دي.

### معدنیات:

په چپه دره او پیچ درې ولسوالیو کې د بیروج، تخته پټ او داسې نورو قیمتي ډېرو معدنونه چې زیات نړیوال شهرت لري موجود دي.

## سیاسي وضعیت:

د کونړ ولایت د محمد یوسف د صدارت په وخت کې په ۱۳۴۴ لمریز کال کې د افغانستان د اداري ولایتونو څخه وشمېرل شو.
چې ۱۶ اداري واحدونه او د ولسوالیو په کچې ۱۱۸۱ کلي او بانډې لري چې ولسوالی یې عبارت دي له:
نرنګ، څوکی، نورګل، خاص کونړ، سرکاڼي، مره وره، وټه پور، پیچ دره، چپه دره، شیګل، شلتن، آسمار، دانګام، غازي آباد ناړی او مرکز یې اسعدآباد ښار دی همدارنګه خاص کونړ، سرکاڼي، مره وره، شیګل، شلتن، دانګام او ناړی ولسوالی د فرضي کرښې ترڅنګ پرتې دي.

## ټولنیز وضیعت:

د کونړ ولایت د مرکزي احصائیې د اداري د معلوماتو پر بنسټ په اټکلي توګه په دې ولایت کې ۵۷۶۰۰۰ تنه هستوګن دي چې ۳۲۴۰۰۰ تنه چې ۴۸ سلنه کېږي ښځینه دي. ۳۵۰۰۰ تنه په ښاري سیمو او پاتې په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي.
پدې ولایت کې لوې قومونه لکه صافي، شینواري، مشواڼي، سالارزي، نورستاني، پشه یي، کوهستاني، دیګان، ګوجر، ماموند، مومند، او نور ژوند کوي چې په پښتو، نورستاني، ګجري، پشه یي او کوهستاني ژبو خبرې کوي. په دې ولایت کې دولتي اداري په پښتو او دري ژبو خپل ورځنی کړنې تر سره کوي.

## د ښوونې او روزنې وضیعت:

د دې ولایت ۵۵ سلنه خلک په ښاري سیمو کې او ۴۵ سلنه خلک په کلیوالي سیمو کې لوستي دي.
د کونړ ولایت په ټولو ولسوالیو کې ۷۸۰ بابه تعلیمي مرکزونه شتون لري چې له دې جملې څخه ۴۳۹ بابه دعمومي زده کړو ښوونځي لري چې له دې عمومي ښوونځیوڅخه یې ۲۴۰بابه لومړني ښوونځي، ۹۶ بابه منځني ښوونځي او ۱۰۳ بابه لیسې لري، ۳۶ بابه دیني مدرسې، ۳ بابه دارالحفاظونه، ۴ بابه دارالعلومونه او همدارنګه ۱۶ بابه لیلیه مدارس، ۸۳بابه نهاري مدارس، ۱۶۲ بابه کلیوالي مدارس، ۲۹ بابه خصوصي ښوونځي، ۸ بابه خصوصي مدرسې فعال دي (د نورو معلوماتو لپاره دې ۵ نمبر ملپاڼې ته کتنه وشي)؛ چې د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې د شامل زده کوونکو شمېر ۱۶۸۷۷۵ تنه دي چې ۱۰۶۵۱۴ تنه یې هلکان او ۶۲۲۶۱ تنه نجونې دي چې په درې دورو کې په زده کړو بوخت دي چې په ابتدائیه دوره کې ۱۳۶۲۴۲ تنه، په متوسطه دوره کې ۱۸۵۷۶ تنه، په لېسې دوره کې ۱۳۹۵۷ تنه او په دارالحفاظ او دارالعلومونو کې ۴۰۸ تنه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي چې د تدریس چارې یې ۴۷۴۶ تنه ښوونکو لخوا پرمخ وړل کیږي چې له دې جملې څخه یې ۴۰۴ تنه ښځینه ښوونکي دي.
(د نورو معلوماتو لپاره دې ۴ نمبر ملپاڼې ته کتنه وشي).

د پوهنې ریاست تر چتر لاندې په ښوونیزه، روزنیزه او د ښوونځیو څخه د ټولنې پر مټ ټولنیزې څارنې برخه کې لاندې همکار مؤسسات په کار بوخت دي:

۱: د افغانستان ځلانده ستوري ښوونیزه مؤسسه (SSEOA)
۲: دوامداره خیرښېګڼه او اجتماعي خدمتونو مؤسسه (SWSSO)
۳: د ټولنې د همغږۍ او پراختیامؤسسه (OCCD)
۴: د افغان معلولینو لپاره د بایسکل چلولو او بیارغونې تفریحي مؤسسه(AABRAR) (په کونړ ولایت کې دوه تعلیمي پروژې لري)
۵: دځوانانو همغږۍ او بشري پرمختګ اداره (YCHDO)
۶: د افغانستان حقوقي او اجتماعي مؤسسه (ASLO)
۷: مؤسسه زنان افغانستان نوین (نوا) (NAWA) (رضاکاره کار کوي)
۸: ستاسې غږ مؤسسه (YVO).
۹: وطن مؤسسه (WDIO).
(د نورو معلوماتو لپاره دې ۳ نمبر ملپاڼې ته کتنه وشي)

همدارنگه په کونړ ولایت کې د سیدجمال الدین افغاني په نوم یو دولتي پوهنتون موجود دی چې شرعیات، ښوونې او روزنې، کمپیوټر ساینس، زراعت او اقتصاد پوهنځي په کې فعال دي او همدارنگه د تنویر په نامه یو خصوصي پوهنتون هم شتون لري.

په کونړ ولایت په مرکز اسعدآباد ښار کې یو باب دولتي ۲۰ بستریز روغتون شتون لري چې ۲۴ ساعته د ناروغانو په درانه چوپړ کې خدمات وړاندې کوي. همدارنگه ۱ باب دولتي ۲۰۰ بستریز روغتون د کار لاندې دی او په اړونده ولسوالیو کې یو یو باب روغتیایي مرکز شتون لري او همدارنگه دوه بابه خصوصي روغتونونه چې یو یې د کونړ عصري روغتون او بل یې د دانش معالجوي روغتون په نامه د گرانو هیوادوالو په درانه چوپړ کې څلورویشت ساعته روغتیایې خدمتونه وړاندې کوي.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین.

اما بعد:

د کونړ ولایت پوهنې ریاست د ۱۴۰۳ هـ ش کال عملیاتي پلان په دریو برخو کې جوړ شوی؛ چې د مرکز په ګډون د ټولو ولسوالیو په بېلابېلو، کلیو او بانډو کې د پلي کېدو په حال کې دی چې د کړنو پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال وېش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، ربعوار او کلني راپوروونه چمتو او اړونده ادارو ته د هوډ نیونې په موخه استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ د تفصیلي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او کړنو د پرمختګ له څرنګوالي څخه په بېلابېلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول تر څو د اداري په بېلابېلو برخو کې د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت څخه معلومات ترلاسه کول او د ترلاسه شویو معلوماتو په رڼا کې خپل راتلونکې پلانونو او اړوند چارو ته په کړنو کې روڼتیا ورکول، د کار د کیفیت او کمیت په هکله کره معلومات چمتو کول، دکار نیمګړتیاوې او خلاوې روښانه کول، ستونزې تشخیصول او دهغې حل لارې به ګوته کول، اړتیاوې تحلیل او تجزیه کول او همدارنګه مالي لګښتونه روښانه او د هغې نیمګړتیاوې په ګوته کول.

د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ کلنی راپور د کونړ پوهنې ریاست اړوند له څلورو برنامو (د ښوونې او روزنې، اسلامي زده کړو، د کیفیت د تضمین او سرچینې او اداري) او همدارنګه د دریو عمومي مـدیریتونو ( د دفتر، پلان او تفتیش ) د دولسو میاشتو(وری، غویي، غبرګولی، چنګاښ، زمری، وږي، تله، لړم، لیندی، مرغومی، سلواغه او کب) د ترسره شویو کړنو او د راټول شویو معلوماتو پربنسټ ترتیب او اړونده مرجع ته د هوډ نیونې په موخه په خپل ټاکلي وخت سره وړاندې کیږي.

د کونړ ولایت د پوهنې ریاست د کړنو او لاسته راوړنو د راپوروونو د لېږد د سلسلې سره سم دا دی د ۱۴۰۳ هـ ش مالي کال د عملیاتي پلان د تطبیق او د کړنو د پرمختګ کلنی راپور د پوهنې د درې ګوني برخو؛ کېفیت او تړاو، آنډولیز لاسرسی، آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت او پروګرامونو پربنسټ چې د ( سریزې، دکړنو لنډیز، دپرمختګ او لاسته راوړنو تشریحي برخه، تحلیل او پایلې، عمده ستونزې او د حل لارې، د بودیجې لګښت او مل پاڼې شاملې دي تــرتیب او د ورستیو کړنو په موخه پوهنې وزارت مقام ته وړاندې کیږي؛ چې د لاندې مهمو برخو لرونکی دی:

**لومړۍ برخه:** د کړنو لنډیز

**دویمه برخه:** د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ تشریحي برخه

**دریمه برخه:** د غیر پلاني کړنو او لاسته راوړنو برخه

**څلورمه برخه:** تحلیل او پایلې

**پنځمه برخه:** د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې

**شپږمه برخه:** د مالي راپور تحلیل

# لومړی برخه

## د کړنو لنډیز

## لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

### ۱. ښووني او روزنې پروګرام

- د ۲۱۶ بابه د سواد زده کړې کورسونو څخه په دوامداره توګه څارنه ترسره شویده.
- د مسلکي پراختیا ۱۱۸ تنه علمي غړو ته د پوهنې وزارت د مسلکي پراختیا غړو له لورې څلور ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی.
- د لابراتوارنو او کمپیوټر لیبونو د اړتیاوو د مـــعلومولو لپاره په ۱۵۹ ښوونځیو کې سروې ترسره شوي دي.
- د ساینس علمي غړو له لورې ۲۴۷ تنه د لابرانټ ښوونکو ته د ساینس، ریاضي او کمپیوټر په برخه کې روزنه ورکړل شوې ده.
- د پوهنې ریاست اړوند ښېرو ولسوالیو کې ۵۸ تنه ښوونکو ته د صحت کارکوونکو له لورې یو ورځیني ورکشاپ کې د چینجو ګولیو د ښه تطبیق په موخه روزنه ورکړل شوې ده.
- د بدنې روزنې مسلکي او غیر مسلکي ۱۰۱ تن ښوونکو ته او د اصول صنفي ۲۱ تنه ښوونکو ته په انفرادي توګه روزنه ورکړل شوې ده. او همدارنګه د واکسینو او تغیر سلوک په برخه کې د عامې روغتیا ریاست سره په همغږۍ ۷۶۲ تنه ښوونکي ۲۰۰۵۶ تنه زده کوونکي روزل شویدي.
- د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره ۳۸۴۰ درې زره درې سوه افغانۍ مرسته تر لاسه شویده؛ او همدارنګه اسعداباد ښار اړوند د سواد زده کړې په کورسونو کې د دوه تن ښوونکو لخوا په رضاکارانه ډول تدریس ترسره شوی دی.

### ۲. اسلامي زده کړو پروګرام

- د ۴ دارالعلومونو اداري او تدریسي چارې کتل شوي او ۱۲ اړتیاوې یې پیژندل شویدي.
- د اسلامي زده کړو آمریت ۴ تنه نویو مقرر شویو کارکوونکو ته دظرفیت لوړونې ورکشاپ دحسن سلوک په برخه کې د پوهنې وزارت له لورې ورکړل شوی دی.
- د ۴۹ بابه مدرسو او ۳ بابه دارالحفاظونو اداري او تدریسي چارې کتل شوي او ۱۱ اړتیاوې یې پیژندل شویدي.
- علماء کرام ۱۴۶ تنه خامسي او عالیي دورې ازمویني لپاره ثبت او راجستر شوي دي.
- د بیلابیلو مدرسو فارغین ۲۹۱ تنه عالمیه دورې ازمویني لپاره او ۳۸۰ تنه علماء کرام د عالیه درجې ازموینې لپاره ثبت او راجستر شویدي.

### ۳. کیفیت تضمین پروګرام

- د کونړ ولایت په کچه ټولټال ۵۲۲ بابه دیني مدرسو، عمومي زده کړو او خصوصي زده کړو ښوونځیو ۵۳۴ تنه ګډونوالو ته کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ۱۷ ورکشاپونه ورکړل شوي دي.
- د دولتي او خصوصي ۴۶۸ بابه ښوونځیو احصائیوي ارقام راټول شوي او د EMIS په سیستم کې ثبت شوي دي.
- د یو باب نوي تأسیس شوي لومړني خصوصي ښوونځي مختصات راټول شوي دي.
- د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لورې ۵۴۷۶ قطعې شهادتنامې په ګروپې ډول اړونده لیسو ته ویشل شویدي.
- د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لورې ۳۷۸۸ قطعې سپینې شهادتنامې وېشل شویدي.

- د دولتي ښوونځيو دولسم ټولګيو فارغ زده کوونکو ۱۳۲ د پايلو جدولونه او د يو باب خصوصي ښوونځي د دولسم ټولګي د فارغ زده کوونکو يو د پايلو جدول د وزارت مقام لخوا تأييد شويدي.
- ۳۰ تنه کارکوونکو ته د راپور ورکول او انلاين سيستم فعالولو په برخه کې روزنه ورکړل شويده.
- د وزارت مقام لخوا د تضمين کيفيت آمريت اړوند ۲۲ تنو کارکوونکو ته د ټول شموله کيفيت مديريت په برخه روزنه ورکړل شويده.
- د ۴ همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه ترسره شوي ده.
- د چمتو شوي فارمټ سره سم، د کونړ ولايت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ۴ ربعوار راپورونو راټول شوي دي او اړوند مرجع ته استول شوي دي.
- د اصول صنفي( دريم ټولګي ) د زده کوونکو د رياضي او پښتو مضمونونو د پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه په ۷ بابه ښوونځيو کې ترسره شوې ده.

### ۴. سرچينې او ادارې پروګرام

- د پوهنې رياست په کچه ۵۳ تنه اداري کارکوونکي حسن سلوک، مقرره، پلان او راپور ليکنې ته په بيلا بيلو برخو کې روزنه وکړل شويده.
- د ښوونځيو او ملکيتونو د ساتنې او خونديتوب مديريت له لورې يو باب ديني مدرسې لپاره ۲۴۰۰ متره مربع ځمکې سند ترتيب شوی دی.

### ۵. رياست اړوند فعاليتونو پروګرام

- د کونړ پوهنې رياست اړونده مديريتونو او ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونو ته ۱۳۷۶ دانې د پوهنې اونيزې، ۱۷۷ ټوکه د عرفان مجلې او ۱۵۶ ټوکه د بخوان او بينديش مجلې ويشل شوي دي.
- د پنځه ولسواليو ۱۳ بابه ښوونځيو ته د درسي کتابونو د ويشلو له پروسې څخه تخنيکي کتنه ترسره شوې ده.
- ۴۱ تنه مديرانو ته په مالي او اداري برخو کې د پلټنې عمومي مديريت لخوا روزنه ورکړل شويده.
- د مختصر نصاب دتدريس او نورو اړونده ارشاداتو په موخه د دعوت او ارشاد رياست څلور تنه کارکوونکو کونړ ولايت سفر کړی وو.

## دويمه برخه: انډوليز لاسرسی

### ۱. ښوونې او روزنې پروګرلام

- په سرکانو ولسوالۍ کې يو باب دولتي ښوونځی د زده کوونکو پر مخ بيا ځل پرانستل شوی.
- په عمومي زده کړو ښوونځيو کې ۱۵۴۶۶ تنه زده کوونکي چې له دې جملې څخه ۹۱۳۰ تنه يې هلکان او ۶۳۳۶ تنه يې نجونې دي جذب شويدي.
- د يوې همکارې مؤسسې سره د ۲۱ بابه ښوونځيو د احاطوي ديوالونو جوړولو او همدارنګه په ۹ بابه ښوونځيو کې د پاکو اوبو د څاه ګانو د کيندلو په اړه همغږي ترسره شوې ده.
- د ۱۱۳۰ تنو کډوالو او ۱۵۴۹ تنو مجاهدينو څخه د ټولګي د تثبيت ازموينه اخيستل شويده.
- د وطن مؤسسې لخوا ۱۲۰ بابه سيمه اييزو زده کړو ټولګي او ۳۰ د چټکو زده کړو ټولګي نوي تأسيس شوي دي.
- د سواد زده کړې مديريت له لورې ۳۲۸۹ تنه نالوستي کسان د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شويدي.

- د رسمي ښوونکو لخوا ۲۱۸ بابه د سواد زده کړې کورسونه په سرو او تودو سیمو کې ایجاد شویدي.
- د عمومي زده کړو آمریت له لوري څلور بابه نوي خصوصي ښوونځي تأسیس شویدي.

### ۲. د اسلامي زده کړو پروګرام

- د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۱۶ بابه نوې لیلیه مدرسې، ۸۶ بابه نوې نهاري دیني مدرسې تأسیس شوي دي او د اسعداباد ښار اړونده دوه دیني مدرسو نومونه بدل شویدي.
- په ټولو ولسوالیو کې ۶۸۷ تنو علماء کرامو د خامسې او عالیه دورې او ۹۲۵ تنو حافظانو سویې تثبیت شوی دی.
- د ۸۵۰ تنو طالب العلمانو لپاره د لیلیې اسانتاوې رامنځته شویدي.
- په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې په ۱۳ ټولګیو کې ۱۸۷ تنه او په لومړی دوره کې ۱۴۶ تنه جدیدالشمول طالب العلمان نوي جذب شویدي.
- په ټولو ولسوالیو کې۱۰۲ بابه نوې دیني مدرسې تأسیس شویدي.

### ۴. سرچینې او اداري پروګرام

- د پیچ درې ولسوالۍ پوهنې آمریت یو باب منځنۍ ښوونځۍ د لېسې دورې ته ارتقاء کړې ده.
- د محافظت او مصؤنیت مدیریت لخوا په ۱۵ ولسوالیو کې ۱۴۳۰ تنه ښوونکو او ۱۴۰۹۰ تنه زده کوونکو ته د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی ترسره شوی دی.
- د ۲۶ بابه ښوونځیو تعمیرونه د اسلامي امارت له بودیجې څخه ترمیم شویدي.
- د یوې همکارې مؤسسې لخوا ۱۸۰ بابه کلیوالي او چټکو زده کړو ټولګي او ۷ بابه تشنابونه او همدارنګه د یو بلې همکارې مؤسسې لخوا دوه بابه دولتي ښوونځیو تعمیرونه ترمیم شویدي.
- د دیني مدرسو او ښوونځیو لپاره د معارف پاله خلکو لخوا ۵ جریبه او ۱۸ بسوې ځمکه تدارک شویده.

## دریمه برخه:آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

### ۱. ښوونه او روزنې پروګرام

- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ۴۶۸ بابه ښوونځیو د شوراګانو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د ۴۶۸ بابه د عمومي زده کړود دولتي او خصوصي ښوونځیو، ۱۲۴۵ بابه سیمه ییزو ټولګیو او ۶۲ بابه د چټکو زده کړو ټولګیو څخه حمایوي څارنه ترسره شویده.
- د درسونو د مشاهدې له لارې د ۳۴۷۴ تنه ښوونکو، ۶۱۹ سر ښوونکو، ۴۷۸ تنه مدیرانو او ۴۸۰ تنه د سواد زده کړې ښوونکو له اداري او تدریسي بهیر څخه کتنه ترسره شویده.
- د سیمه ایزو ټولګیو ۱۳۸۳۹ تنه نارینه او ۱۶۸۸۴ تنه ښځینه زده کوونکي او ۶۰۰۹ تنه ښځینه د چټکو زده کړو ټولګیو زده کوونکو احصائیه راټوله شویده.
- د بیرته راستنیدونکو ۱۰۰۷ تنو زده کوونکو او همدارنګه د یو باب تړل شوي ښوونځي چې ۱۵ تنو زده کوونکو احصائیه راټوله او توحید شوې ده.

- په ۵۱۵ بابه ښوونيزو مرکزونو او ۱۴۷۸ محلي ټولګيو کې د کولمو د چينجيو د لمنځه وړلو ټوليز کمپاين ترسره شوی دی چې ۲۰۸۸۳۱ تنه زده کوونکو ته د البندازول ټابليټونه ويشل شوي دي.
- د ځارندوی ټيمونو له لارې په ۳۶ بابه ښوونځيو کې دمخدره موادو دمخنيوي پر وړاندې د عامه پوهاوی پروګرامونه تر سره شويدي.

### ۲. اسلامي زده کړو پروګرام

- د ۱۸۱ تنه علماؤ کرامو د دولسم او ۳۴۸ تنه علماؤ کرامو د څوارلسم ټولګيو د سندونو ارزونه ترسره شويده.
- د مشترکې ازموينې او ارزونې له لارې د بيلابيلو ولسواليو د دولسم ټولګيو ۱۲۶ تنه علماء کرامو او د ۱۴ ټولګيو ۳۸۷ تنه علماء کرام ته سندونه ويشل شوي دي.

### ۴. سرچينې او ادارې پروګرام

- په اسلامي زده کړو آمريت کې ۵۱۶ او په پاتې نورو برنامو کې ۹۰ خالي بستونه په ډاګه شويدي.
- پر تشکيل د څار او راجستريشن مديريت لخوا ۷۵۱ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شويدي.
- د پوهنې رياست په کچه ۱۳۶ تنو کارکوونکو ته د هويت کارتونه چاپ او ويشل شوي دي.
- د پوهنې رياست په کچه ۹۸۱ تشو بستونو کې نوي کارکوونکي پر دندو ګمارل شويدي همدارنګه د پوهنې رياست په کچه ۸۰۷ تنو ښوونکو قدمونو ارتقاء کړي ده.
- د پوهنې رياست په کچه په شرايطو برابر ۲۴ تنه کارکوونکي تقاعد شويدي.
- د اسعداباد ښار اړونده ښوونځيو زده کوونکو لپاره ۵۰۰ پايې ميزونه او چوکۍ ترميم شويدي.
- د پوهنې رياست اړوند ۴۹ بابه دوکانونه په کرايه ورکړل شويدي او همدارنګه ۲۱ بابه خصوصي حويلۍ د ښوونځيو لپاره په کرايه نيول شوي دي.

### ۵. رياست اړوند فعاليتونو پروګرام

- د افغان پوست له لارې او ولايتي ادارو څخه ۱۷۲ دانې مکتوبونه او ۷۸ فرمانونه د دفتر عمومي مديريت ته رارسيدلي او له ارشيف وروسته اړونده برخو ته د ارشيف په کتاب کې تسليم شويدي.
- د ۱۶ ولسواليو د پوهنې آمريتونو د ودانيو لپاره او همدارنګه د ۲۶۷ بابه ښوونځيو د ودانيو لپاره کانسيپټ نوټونه ترتيب او د پلان عمومي رياست ته استول شوي دي.
- پلټنې عمومي مديريت لخوا د درې ځانګړې موضوعات بررسي شوې ده.
- د څلورو برنامو او درې عمومي مديريتونو ۲۱۰ تنه کارکوونکو ته مختصر نصاب تدريس شوی دی.

## د پام وړ ستونزې

- د ښوونکو او اداري کارکوونکو لپاره د روزنيز پروګرامونو کمښت.
- د معلول زده کوونکو لپاره د خاص مرکزونو نه شتون.
- د ۲۶۶ بابه ښوونځيو لپاره د سرپناه کمبود.
- د درسي استهلاک شويو کتابونو دليلام بنديز.

- د درسي کتابونو او کومکي موادو کمښت.
- د کمپیوټر لیبونو او د لابراتوارونو کمښت.
- د لابراتوارونو لپاره د مناسب چاپیریال نشتون.
- د ۱۱۶۰ تنه اصولي صنفي او رشتي ښوونکو کمښت.
- د عملیاتي پلان ډیرى فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د بودیجې کمښت.
- د ښوونکو د روزنې مسلکي کادرونو لپاره د ترانسپورټ نشتون.
- د درسي چاپیریال لپاره د ودانۍ، میز او څوکېو کمښت.

## حل لارې

- د ښوونکو، اداري کارکوونکو، مدیرانو او د انکشاف مسلکي غړو لپاره ځانګړي روزنیز پروګرامونه ترتیبول اوهم ورته بودجه ځانګړې کول.
- د اسلامي امارت او همکارو مؤسساتو په همکارۍ د معلولینو زده کوونکو لپاره د ځانګړي مرکزونو جوړول.
- د عادي بودیجې څخه او یا د مؤسساتو پر مټ د ښوونځیو د سرپناه جوړول.
- وزارت مقام لخوا داستهلاک شویو کتابونو د لیلام اجازه ورکول.
- د ښوونځیو او زده کوونکو د اړتیاوو سره سم دې درسي کتابونه او ممد توکې په ټاکلي وخت برابر او د پوهنې ریاست اړونده ښوونځیو ته واستول شي تر څو د زده کړې په بهیر کې کوم خنډ او ځنډ رامنځ ته نشي.
- د همکارو مؤسساتو په همکارۍ د دولتي ښوونځیو لپاره مجهز لابراتوارونه او کمپیوټر لیبونه جوړول، ترڅو زده کوونکې د نظري زده کړو تر څنګ له عملي زده کړو څخه هم برخمن شي.
- د ښوونځیو د رشتوي اړتیاوو سره سم مسلکې او د رشتې د اړتیا پر بنسټ ښوونکې په دندو وګمارل شي تر څو د مسلکې ښوونکو د کمښت ستونزه حل شي.
- د عملیاتي پلان د ساحوي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره دې باید ځانګړې بودیجه ورکړل شي.
- باید د ښوونکو د روزنې مسلکي کادرونو لپاره د ترانسپورټ سهولتونه برارول.

## د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

### لومړۍ برخه: کیفیت او تړاؤ

**تولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوی به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د اغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

#### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې په ۱۶ ولسوالیو کې د ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي غړو لخوا ۲۱۶ بابه د سواد زده کړې کورسونه په تکراري ډول خارل شویدي چې د اړتیاوو د موندنې پر بنسټ یې ښوونیز موادو ته پراختیا ورکړل شویده.

**۱,۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د مرکزي ټیم لخوا په پوهنې ریاست کې علمي غړي نه دي روزل شوي ځکه چې د پوهنې وزارت له لورې څوک په دې برخه کې نه دي راغلي او همدارنګه د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه علمي غړو ته د بودیجې د نه شتون له امله روزنه نه ده ورکړل شوې.

**۱,۳ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په کونړ ولایت کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د مسلکي پراختیا ۱۱۸ تنه علمي غړو ته په ننګرهار ولایت کې د پوهنې وزارت د مسلکي پراختیا علمي غړو لخوا څلور ورځنۍ ورکشاپ د دندو د لایحې د روښانه کولو په موخه ورکړل شوی دی.

**۱,۴ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست کارکوونکو ته د جواز ورکولو سیستم د معرفي کولو په برخه کې د بودیجې نشتون له امله روزنه نده ورکړل شوې.

**۱,۵ فعالیت: د لابراتوارونو د اړتیاوو معلوموللوپاره سروې او کونړ ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند په ۱۵ ولسوالیو کې د لابراتوارنو او کمپیوټر لیبونو د اړتیاوو معلومولو لپاره په ۱۵۹ ښوونځیو کې سروې ترسره شوې ده او د ترسره شویو پروګرامونو څخه ۹ حمایوي څارنې ترسره شویدي.

**۱,۶ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند په ټولو ولسوالیو کې د ساینس مدیریت علمي غړو لخوا ۲۴۷ تنه د ښوونځیو په کچه د لابرانټ ښوونکو ته په انفرادي ډول د ساینس، ریاضي او کمپیوټر په برخه کې په تکراري ډول روزنه ورکړل شوې ده.

**۱,۷ فعالیت: د پوښښ لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د پوښښ لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د بودیجې نشتون له امله او د ملاتړو موسیسو د نه همکارۍ له امله هیڅ نارینه او ښځینه ښوونکي ندي روزل شوي.

**۱,۸ فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو اداري کارکوونکو ته د بودیجې نشتون له امله د ظرفیت لوړولو ورکشاپ ندی ورکړل شوی.

**۱,۹ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا په کونړ ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (Dewormin (WASH په برخه کې د څارندوي د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د شپږو ولسوالیو ۵۸ تنه ښوونکو او د پوهنې ریاست څلورتنه د صحت کارکوونکو ته د چینجو ګولیو د ښه تطبیق په موخه یو ورځنی ورکشاپ د پوهنې وزارت اړوند د صحت ریاست د مسلکي غړو لخوا ورکړل شویدی، د بدني روزنې مسلکي او غیر مسلکي۱۰۱تن ښوونکي او د اصول صنفي ۲۱ تنه ښوونکي په انفرادي توګه روزل شویدي او همدارنګه د واکسینو او تغیر سلوک په برخه کې د عامې روغتیا ریاست سره په همغږۍ ۷۶۲ تنه ښوونکي او ۲۰۰۵۶ تنه زده کوونکو ته په ۱۶ ولسوالیو کې د صحت مدیریت لخوا روزنه ورکړل شویده.

**۱,۱۰ فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د کونړ ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې په کونړ ولایت کې د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د لازمو ظرفیتونو رامنځته کولو او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د ځانګړي بودیجې د نه شتون له امله کومې لازمې لارښوونې ندې ترتیب شوي او یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې هم نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۱ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طـرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق، د ترتیب شویو لایحو، کړنلارو او لارښودونو د معرفي کولو لپاره د پوهنې وزارت له لورې بودیجه نده ځانګړې شوي له همدې امله کوم روزنیز ورکشاپ په لاره ندی اچول شوی.

**۱,۱۲ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د سواد زده کړې مدیریت لخوا د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د اولسي د ملاتړ په پایله کې په چپه دره، څوکۍ او خاص کونړ ولسوالیو کې ۳۸۴۰ افغانۍ مرسته ترلاسه شویده او همدارنګه اسعداباد ښار اړوند د سواد زده کړې په کورسونو کې د دوه تن ښوونکو لخوا په رضاکارانه ډول تدریس ترسره شوی دی.

**۱,۱۳ فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د کونړ ولایت په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو په کچه د سواد زده کړې د سیمه ییزو خلکو له لارې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو ۳۳۷ غونډې جوړې شوي دي.

**۱,۱۴فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه د وزارت مقام له لورې نده ترسره شوې ځکه چې منابع او بودیجه ورته نده ځانګړې شوې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه کومې مدرسې؛ دارالعلوم ته د ارتقاء شرایط نه دي پوره کړي نو ځکه یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۲,۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د ښیا کتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لیږل؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت د څارنې علمي او تدریسي غړو د څلورو ښلا ښلو (ناړي، مولوي محمد هاشم منیب، چپې درې او د هیلګل) دارالعلومونو اداري او تدریسي چارې کتلي او بررسي کړیدي چې د ښلا ښلو کتنو په ترڅ کې یې دغه۱۲ اړتیاوې موندلي دي چې یادونه یې په لاندې ډول کیږي. ۱: د مدرسینو تشکیل کمښت، ۲: ســـــپینو تختو نشتون ۳: کتابونو کمښت، ۴: درسي کومکي موادو کمښت، ۵: ودانیو کمښت، ۶: دفتري میزونو کمښت، ۷: کمپیوټر لیبونو نشتون، ۸: بریښنا کمښت، ۹: د زده کوونکو چوکیو کمښت، ۱۰: د زده کوونکو لپاره دلیلیې کمښت، ۱۱: مدرسینو ته د نصاب په هکله د ورکشاپ نه ورکول، ۱۲: د مولوي محمد هاشم منیب دارالعلوم ودانۍ خرابوالی، چې ترمیم ته اړینه اړتیا لري.

**۲,۳ فعالیت: په کونړ ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د ۴ نویو ګمارل شویو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې درې ورځنۍ ورکشاپ د حسن سلوک تر عنوان لاندې د پوهنې وزارت څخه راغلي پلاوي لخوا ورکړل شوی دی.

**۲,۴ فعالیت: په کونړ ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت اړوند علمي او تدریسي غړو لخوا ۴۹ بابه مدرسو، ۳ بابه دارالحفاظ اداري او تدریسي چارې کتل شویدي چې ۱۱ اړتیاوې یې معلومې شوې دي چې په لاندې ډول یې یادونه شوې ده؛ ۱: د مدرسینو تشکیل کمښت، ۲: سپینو تختو کمښت، ۳: کتابونو کمښت، ۴: درسي کومکي موادو نشتون، ۵: ودانیو کمښت، ۶: دفتري میزونو کمښت، ۷: کمپیوټر لیبونو نشتون، ۸: بریښنا کمښت، ۹: د زده کوونکو چوکیو کمښت، ۱۰: د زده کوونکو لپاره دلیلیې کمښت، ۱۱: مدرسینو ته د نصاب په هکله د ورکشاپ نه ورکول.

**۲,۵ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د علماء کرامو د ازموینې د ثبتولو لپاره ځانګړی ډیټابیس نلري البته ۱۴۶ تنه علماء کرام چې ۳۹ تنه یې د خامسې دورې او ۱۰۷ تنه یې د عالیه درجې علماء کرام د ازموینې ورکول په موخه ثبت او راجستر شویدي.

**۲,٦ فعالیت: په کونړ ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپېژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د بودیجې د نه شتون له امله د نویو درسي کتابونو په اړه ورکشاپ نه دی ورکړل شوی.

**۲,۷ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت لخوا د بېلا بېلو ولسوالیو ۲۹۱ تنه د مدرسو فارغین د عالمیه دورې ازموینې او ۳۸۰ تنه علماء کرام د عالیه درجې ازموینې لپاره ثبت او راجستر شویدي.

## ۳. د کیفیت تضمین

**۳,۱ فعالیت: د کونړ ولایت ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د۵۲۲ بابه دیني مدرسو، عمومي زده کړو او خصوصي زده کړو ښوونځیو ۵۳۴ تنه ګډونوالو ته د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د پوهنې وزارت د احصائیې او معلومات ریاست د کارکوونکو، د پوهنې ریاست د کارکوونکو په ملتیا او د یونیسف مؤسسې په مالي لګښت د ظرفیت لوړونې دوه ورځنۍ ۱۷ورکشاپونه ورکړل شویدي.

**۳,۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه په ۱٦ ولسوالیو کې د پوهنې وزارت د احصائیې او معلومات ریاست د کارکوونکو، د پوهنې ریاست د کارکوونکو په ملتیا او د یونیسف مؤسسې په مالي لګښت د ۱۰٪ فیصده د ارقامو د تصدیق فورمې ډکې شوي او ۱۰٪ ښوونځي له نږدې څخه کتل شوي دي.

**۳,۳ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د ۱٦ ولسوالیو د برنامو په اساس د زده کوونکو ښوونځیواره او ټولګیواره احصائیه راټوله او د EMIS په سیستم کې ثبت شوي او د نشراتو مدیریت ته استول شویده.

**۳,۴ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د احصاییې عمومي مدیریت لخوا د ۱۴۰۳ هـ ش کال د عمومي زده کړو ۴٦۸ بابه دولتي او خصوصي ښوونځیو احصائیوي ارقام راټول شوي او د EMIS په سیستم کې ثبت شوي دي او همدارنګه د ښوونځیو راټول شوي احصائیوي ارقام د نشراتو مدیریت ته استول شوي دي.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د تیرو کلونو د ښوونځیو مختصات موجود نه دي او په سرکانو ولسوالۍ کې د یو باب نوي تأسیس شوي لومړني خصوصي ښوونځي مختصات د احصائیې عمومي مدیریت لخوا راټول شوي او د EMIS په سیستم کې ثبت شویدي.

**۳,٦ فعالیت: د برې لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د نتایجو او شهادتنامو له لورې د سړو او ګرمو سیمو ۱۸ بابه لیسو ته ۵۴۷۶ قطعې شهادتنامې په ګروپي ډول اړونده لیسو ته ویشل شویدي.

**۳,۷ فعالیت: د کونړ ولایت پوهنې ریاست ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د نتایجو او شهادتنامو مدیریت ته پوهنې وزارت د نتایجو او شهادتنامو ریاست له لورې د ۱۴۰۲ کال سرد سیرو او ګرمسیرو ۲۶ بابه لیسو ته ۳۷۸۸ قطعې سپینې شهادتنامې ورکړل شوي وي چې له دغې جملې څخه ۸۶۱ قطعې په دقیق ډول خانه پرې شوي چې له لاسلیکولو وروسته به پوهنې ریاست ته واستول شي او د پاتې شهادتنامو په ډکولو کار روان دی.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د نتایجو او شهادتنامو مدیریت لخوا د دولتي ښوونځیو دولسم ټولګیو فارغ زده کوونکو ۱۳۲ د پایلو جدولونه او د یو باب الزهور خصوصي ښوونځي د دولسم ټولګي د فارغ زده کوونکو یو د پایلو جدول د وزارت مقام لخوا تأیید شویدی چې له تأیید وروسته سکن او په سیستم کې اپلوډ شوی دی او همدارنګه د ۱۴۰۲ کال د ۳ تنه دولسم ټولګي فارغ سامع زده کوونکو ۳ د پایلو جدولونه د وزارت مقام لخوا تأیید شویدي.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند ټولو مدیریتونو او آمریتونو ۳۰ تنه کارکوونکو ته د پوهنې ریاست د غونډو په تالار کې د عملیاتي پلان د تطبیق او کړنو د پرمختګ د راپور ورکولو او انلاین سیستم فعالولو په برخه د پوهنې وزارت د تضمین کیفیت معینیت، د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو ریاست اړوند د راپور ورکولو۲ تنه راغلو کارپوهانو له لورې څلور ورځنۍ ورکشاپ ورکړل شوی دی.

**۳,۱۰ فعالیت: د کونړ ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د داخلي مدیریتونو او آمریتونو د عملیاتي پلان له تطبیق، د نرنګ، څوکۍ، اسعداباد، دانګام او نورګل ولسوالیو پوهنې آمریتونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق او همدارنګه د پوهنې ریاست اړوند د دوه همکارو مؤسساتو د وطن د پرمختیا او نوښت مؤسسې او د ټولنې د همغږۍ او پراختیا موسسې د تعهداتو له تطبیق څخه د پوهنې وزارت څخه راغلي څلور کسیز پلاوي او د پوهنې ریاست د څارنې او ارزونې مسلکي غړو په ملتیا د فعالیتونو د پرمختګ څخه هر اړخیزه څارنه ترسره شوې ده.

**۳,۱۱ فعالیت: د کونړ ولایت د پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د ۴ همکارو مؤسسو له کلیوالي او چټکو زده کړو ټولګیو له اداري او تدریسي بهیر، اجناسو، د ټولګیو موقعیتونو څخه څارنه ترسره شوې ده او توحیدي راپور یې د پوهنې وزارت محترم مقام ته استول شوی دی.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم د ګټې اخېستنې وړ ګرځیدلی او د هرې ربعې راپور د وزارت مقام سره شریک شوی دی.

**۳,۱۳ فعالیت: د ۱۴۰۳ کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د کونړ ولایت د پوهنې ریاست له کلنۍ کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د کونړ ولایت د پوهنې ریاست له کلنی کړنو څخه ارزونه نده ترسره شوي.

**۳,۱۴ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د ټولو مدیریتونو او آمریتونو ۳۰ تنه کارکوونکو ته د عملیاتي پلان د تطبیق او کړنو د پرمختګ د راپور ورکولو او انلاین سیستم فعالولو په برخه کې د پوهنې وزارت؛ د تضمین کیفیت معینیت؛ د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو ریاست اړوند د راپور ورکولو ۲ تنه راغلو کارپوهانو له لورې څلور ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی او د راپور ورکولو انلاین سیستم یې فعال او د تطبیق کړ چې په راتلونکي کال کې به په عملي ډول د استفادي وړ وګرځي.

**۳,۱۵ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د کونړ ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د څلورو برنامو او درې عمومي مدیریتونو څخه دراپور د چمتو شوي فارمټ سره سم، د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو د دولسو میاشتو حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدي، دلو او حوت راپورونه راټول شوي چې د هغې څخه د لومړی، دویمې، دریمې او څلورمې ربعې راپورونه توحید او چمتو شوي دي او پوهنې وزارت ته په خپل وخت استول شوي دي.

**۳,۱۶ فعالیت: د تودو سیمو په کونړ ولایت کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند په پنځه ولسوالیو اسعداباد، سرکانو، نورګل، نرنګ او خاص کونړ پوهنې آمریتونو اړونده په ۷ بابه ښوونځیو ډنډونو هلکانو لیسه، محمد هاشم زماني لیسه، بحراباد نجونو لیسه، مسلم اباد ابتدائیه، کوټکي ابتدائیه، حکیم اباد هلکانو لیسه، او نورګل مزار هلکانو د اصول صنفي ( دریم ټولګي ) د زده کوونکو د ریاضي او پښتو مضمونونو د پوهې د کچې د پرمختګ په موخه د پوهنې وزارت د تضمین کیفیت معینیت د معیاري ازموینو او د تعلیمي نتایجو د ارزونې ریاست څلور تنه کارپوهانو او د کونړ پوهنې ریاست د ارزونې علمي او مسلکي غړو لخوا ارزونه ترسره شوې ده.

**۳,۱۷ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه نده ترسره شوې ځکه چې د پوهنې وزارت له لورې کوم هدایات او لارښوونې نه دي ترسره شوي.

**۳,۱۸ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د بودیجې نشتون له امله کارکوونکي ندي روزل شوي.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه کونړ ولایت مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛**
په ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه دقیقه څارنه شوې ده چې بودیجه د بودیجوي قانون او کړنلارې له مخې له خپلو کوډونو څخه په شفاف ډول اجراء او مصرف شوې چې بشپړ راپور یې د ۱۴۰۲ کال کلني راپور کې د وزارت مقام سره شریک شوی دی.

**۴,۲ فعالیت: په کونړ ولایت د Auto PRIS سیستم نصبول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د مالي کړنو لپاره د Auto PRIS سیستم د پوهنې وزارت له لورې ندی نصب شوی او ددې سیستم پرځای د BPT سیستم څخه استفاده کیږي.

**۴,۳ فعالیت: د مالیې وزارت په موافقه د کونړ ولایت کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د مالیې وزارت په موافقه د افمیس سیستم ته پراختیا نده ورکړل شوې.

**۴,۴ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې کارکوونکو ته روزنه نده ورکړل شوې ځکه چې د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري ریاست له لورې څوک نه دي راغلي تر څو یاد کارکوونکي وروزي.

**۴,۵ فعالیت: د کونړ ولایت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې د پوهنې وزارت له لورې ندي جوړې شوي.

**۴,۶ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د اداري کارکوونکو زده کړه او ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه ۵۳ تنه اداري کارکوونکو ته د حسن سلوک، مقرره، پلان، راپور لیکنه، ارزونه، اداره مدیریت او اداري مراسلات په برخه کې د پوهنې وزارت د تشکیلاتو ریاست د زده کړو او وړتیا لوړونې آمریت دوه تنه استادانو لخوا درې ورځنۍ ورکشاپ ورکړل شوی دی او همدارنګه ۲۱۱ تنو اداري کارکوونکو فورمونه د ظرفیت لوړاوی په موخه ډکې شوي او کونړ ولایت اصلاحات اداري آمریت ته لیږل شوي دي.

**۴,۷ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنایي کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق او تصحیح لپاره ځانګړی ډیټابیس ندی جوړ شوی البته د مامورینو د سوانح خوندیتوب لپاره د فایلینګ منظم سیستم رامنځ ته شوی دی.

**۴,۸ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست د چپې درې ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب مدیریت له لورې یو باب دیني مدرسې لپاره ۲۴۰۰ متره مربع ځمکې سند ترتیب شوی دی.

**۴,۹ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه ۲۵ ودانۍ سجل شوي او د مولوي محمدهاشم منیب دارالعلوم احاطوي دیوال سجل شوی دی او همدارنګه په ۱۲ ولسوالیو کې ۲۲ بابه ښوونځي چې په ۱۴۰۲ کال کې ترمیم شوي وو په لومړۍ ربعه کې یې سجل بشپړ شویدی.

**۴,۱۰ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب مدیریت له لورې د ٦ ملکیتونو (د منورې ولسوالۍ اړوند د رشید ابتدائیه ښوونځي لپاره نیم جریب ملکیت، د دانګام ولسوالۍ اړوند وړوکي ګریګا ابتدائیه ښوونځي لپاره یو جریب ملکیت، د چپې درې ولسوالۍ دیني مدرسي لپاره ۲۴۰۰ متره مربع ملکیت، ګړنګل لیسې ملکیت، سیدور متوسطه، او په مرکز کې د پوهنې ریاست حویلۍ) سندونه ثبت شویدي او همدارنګه د ٦ تعمیرونو (

ګړنګل لیسه، سیدور متوسطه، د اسعداباد د جهادي مدرسي دلیلي تعمیر، د جهادي مدرسي تدریسي تعمیر، د جهادي مدرسي طعام خورۍ تعمیر او د پوهنې ریاست د میلمستون ودانۍ ) سجلونه د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې ثبت شوي دي.

**۴,۱۱ فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت نه دي انتقال شوي؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند په پنځه ولسوالیو کې ۴۴ جریبه او ۴ بسوې امارتي ځمکه چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ۸ ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې پوهنې وزارت نه دي انتقال شوي چې له دغې جملې ځخه د مرکز اسعداباد ښار اړوند د مینا شهید منځني ښوونځي ودانۍ لپاره ۵ جریبه، د مرکزي دارالعلوم لپاره ۹ جریبه، لچګلي لیلیه تعمیر لپاره ۱۱ جریبه او پنځه بسوې ځمکه، د اسمار پوهنې آمریت اړوند د ججي نجونو لیسې لپاره ۱ جریب او ۹ بسوې، خاص کونړ پوهنې آمریت اړوند چنداروی د نجونو ابتدائیه ښوونځي لپاره دوه نیم جریبه د څوکی پوهنې آمریت اړوند د څوکی دارالعلوم او دارالحفاظ لپاره ۵ جریبه، استاد فیض الله منځني ښوونځي لپاره ۵ جریبه ځمکه او د نورګل ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند د نورګل حمایوي دارالمعلمین لپاره ۵ جریبه ځمکې ثبیت شوي دي او همدارنګه د تعمیرونوپه برخه کې څلوربابه، ۱: بي بي فاطمې لیسه، ۲: د مولوي محمد هاشم منیب دارالعلوم، ۳: میناشهید متوسطه ۴: عمراخان لېسې تعمیرونه انتقال شویدي.

**۴,۱۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه په پنځه ساحو کې ( شیهد معلم سلیم خان لیسې ۲ جریبه او یوه بیسوه، بي بي فاطمې لیسې ٦ بیسوې او ٦٢ متر مربع، د دارالمعلمین ۳ جریبه ۴۹۰ مترمربع، بحراباد لیسې ۱۰ جریبه، او نرنګ دارالأیتام ۲ جریبه ۴ بیسوي) د پوهنې ځمکه د اشخاصو لخوا غصب شوې چې دوسیه یې د کونړ ولایت په محکمه کې جریان لري.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوندفعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین فرمانونو او د ریاست الوزراء، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت وزارت پورې تړاؤ لري.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند مدیریتونو او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ۱۳۷٦ ټوکه د پوهنې اونیزې په نامه اونیزپاڼې، ۱۷۷ ټوکه د عرفان مجلې او ۱۵٦ ټوکه بخوان وبیندیش د نشراتو مدیریت لخوا ویشل شوي دي؛ کلیزې او بروشرونه د وزارت مقام له لورې ندي چاپ شوي او پوهنې ریاست ته په واک کې ندي ورکړل شوي چې ویش یې له همدې امله ندی ترسره شوی.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله کتابونه د پوهنې وزارت له لورې ندي چاپ شوي.

**۵,۴ فعالیت: د کونړ ولایت ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه پنځه ولسوالیو (منوره، سرکانو، اسعداباد، نرنگ او څوکی) د پوهنې آمریتونو اړوند د نشراتو مدیریت له لورې د ۱۳ بابه ښوونځیو د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه ترسره شوې ده.

**۵,۵ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ٦۳۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه په پښتو او دري ژبې د سواد زده کړې درسي کتابونو پوهنې وزارت له لورې ندي چاپ شوي.

**۵,٦ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۱٦۵۳ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود درسي کتابونه د پوهنې وزارت له لورې نه دي رارسیدلي په همدې اساس یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۵,۷ فعالیت: په کونړ ولایت کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه د استهلاک شویو کتابونو په هکله رسماً معلومات غوښتل شویدي چې په ښوونځیو کې زیاته اندازه کتابونه موجود دي چې د استهلاک دوره یې پوره شویده د پوهنې وزارت څخه یې دلیلام پروسه د پوهنې وزارت ۱۴۴٦/۳/۲۰ (۲۲۹) گڼه لیک په اساس بنده ده چې زیات درسي کتابونه په ښوونځیو کې بې ځایه پراته دي او درسي خونې یې نیولي دي باید استهلاک شي.

**۵,۸ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د کونړ ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروگرامونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د پلټنې عمومي مدیریت لخوا په دره پیچ ولسوالی کې ۵ تنه مدیرانو ته، په سرکانو ولسوالی کې ۵ تنه مدیرانو ته، په ناړی ولسوالی کې ۵ تنه مدیرانو ته، په وټه پور ولسوالی کې ۷ تنه مدیرانو ته، اسعداباد ښار پوهنې آمریت اړوند ۵ تنه مدیرانو ته، چپې درې ولسوالی پوهنې آمریت اړوند ۷ تنه مدیرانو ته، غازي اباد پوهنې آمریت اړوند ۵ تنه مدیرانو ته او همدارنگه د شلتن پوهنې آمریت اړوند ۲ تنه مدیرانو ته چې په مجموع کې ۴۱ تنه کیږي په مالي او اداري برخه کې روزنه ورکړل شویده.

**۵,۹ فعالیت: د اړونده پروگرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست ته د وزارت مقام لخوا د مختصر نصاب دتدریس او نورو اړوند ارشادات او پروگرامونو د رسولو په موخه د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست څلور تنه کارکوونکو کونړ ولایت پوهنې ریاست ته یو ځل سفر کړی وو.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول گډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروگرامونو د تطبیق له څرنگوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو د پروګرامونو د تطبیق او څرنګوالي د څارنې لپاره د پوهنې وزارت څخه څوک نه دي راغلي نو په همدې اساس یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د ټرل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د سرکانو ولسوالی پوهنې آمریت اړوند یو باب د کمر کلي ابتدائیه دولتي ښوونځی د زده کوونکو پرمخ د بیا ځلې لپاره پرانستل شوی دی.

**۱,۳ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لیبونو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د ولایت په کچه دوه بابه لابراتوارونه ایجاد شوي او د بودیجې د نه شتون او همدارنګه په دې برخه کې د همکارو مؤسساتو د نه همکارۍ له امله لابراتوارونه او کمپیوټر لیبونه ندي تجهیز شوي.

**۱,۴ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د کونړ ولایت په کچه د ۲۰٦۱۸ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه ۱٦ ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند په سړو سیمو او ګرموسیمو دولتي ښوونځیو کې ۱۵۴٦٦ تنه جدیدالشمول زده کوونکي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه ۹۱۳۰ تنه یې هلکان او ٦۳۳٦ تنه یې نجونې دي.
(د نورو معلوماتو لپاره دې ۲ نمبر ملپاڼې ته کتنه وشي).

**۱,۵ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د ۲ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه دتشکیل د کمښت او د ولسي خلکو د نه غوښتنې په اساس نوي دولتي ښوونځي نه دي تأسیس شوي.

**۱,٦ فعالیت: په کونړ ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د لومړني ښوونځي منځني ښوونځي ته او منځني ښوونځي لیسو ښوونځیو ته لوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د پیچ درې ولسوالۍ اړونده یو باب د سندرۍ د هلکانو منځنی ښوونځی؛ لیسې ته ارتقاء کړې او نورو ښوونځیو د ارتقاء د معیارونو د نه پوره کیدو له امله لوړې دورې ته ارتقاء نه ده کړې.

**۱,۷ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د خاص کونړ ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند یو باب مایا ابتدائیه ښوونځی په کاویړ ابتدائیه ښوونځي کې مدغم شوی او د ښوونځیو د نوم، جنسیت او لیرد په اړه بدلون ندی راغلی ځکه چې د خلکو لخوا یې غوښتنه نه ده شوې.

**۱,۸ فعالیت: د کونړ ولایت پوهنې ریاست او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست رهبرۍ د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې سره د ۲۱ بابه ښوونځیو د احاطوي دیوالونو جوړولو او همدارنګه په ۹ بابه ښوونځیو کې د پاکو اوبو د څاه ګانو د کنیدلو په اړه همغږي ترسره شوې ده.

**۱,۹ فعالیت: د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره ښوونیز مرکزونه د بودیجې د نه شتون له امله ندي رامنځته شوي.

**۱,۱۰ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه له بهر څخه راستانه شویو۱۱۳۰ تنو کډوالو او ۱۵۴۹ تنو مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم ترې ازموینه اخیستل شوې او ټولګي یې تثبیت شوي دي چې د قانوني مراحلو طی کولو وروسته اړونده ښوونځیو ته ورپیژندل شوي دي.

**۱,۱۱ فعالیت: د مرستندویه مؤسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د وطن مرستندویه مؤسسې لخوا په پنځه ولسوالیو ( دانګام، سرکانو، شلتن، اسعداباد او غازي اباد) کې د سیمه ییزو زده کړو ۱۲۰ او د چټکو زده کړو ۳۰ بابه ټولګي ایجاد شویدي چې په لاندې جدول کې د ټولګیو تعداد ښودل شوی دی:

| شمېره | ولسوالي | د ټولګیو تعداد | | ټولټال | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | د سیمه ایزو ټولګیو شمیر | چټکو ټولګیو شمیر | | |
| ۱ | دانګام | ۲۰ | ۰ | ۲۰ | |
| ۲ | سرکانو | ۲۰ | ۰ | ۲۰ | |
| ۳ | شلتن | ۲۰ | ۰ | ۲۰ | |
| ۴ | اسعداباد | ۳۵ | ۲۰ | ۵۵ | |
| ۵ | غازي اباد | ۲۵ | ۱۰ | ۳۵ | |
| **مجموع** | | **۱۲۰** | **۳۰** | **۱۵۰** | |

**۱,۱۲ فعالیت: د ځارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د ځارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونه د نویو ښوونځیو د نه تأسیس له امله ندي رامنځته شوي.

**۱,۱۳ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند په ټولو ولسوالیو کې د سواد د اهمیت په اړه د جوماتونو او کلیوالي کمیټو غونډو له لارې د عامه پوهاوي ۳۴۵ پروګرامونه ترسره شویدي. د سواد نړیواله ورځ لمانځل د امیر المؤمنین حفظه الله ورعاه د حکم په اساس بند شویدي او همدارنګه د بروشرونو او اعلاناتو د چاپ، صوتي او تصویري کلیپونو د خپرولو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونه د ځانګړې بودیجې د نه شتون له امله ندي ترسره شوي.

**۱,۱۴ فعالیت: د سیمه ایيزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د سواد حیاتي ښوونځي د وزارت مقام له لورې د بودیجې او تشکیل نه شتون له امله ندي تأسیس شوي.

**۱,۱۵ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو زده کوونکو لپاره د سواد زده کړې ځانګړې کورسونه د پوهنې وزارت له لورې ندي تأسیس شوي.

**۱,۱۶ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت اړوند په لسو ولسوالیو د سړو سیمو سواد زده کړې په کورسونو کې ۲۱۲۱ تنه نالوستي کسان او همدارنګه په پنځه ولسوالیو تودو سیمو سواد زده کړې په کورسونو کې ۱۱۶۸ تنه نالوستي کسان جذب شویدي چې ټولټال ۳۲۸۹ تنه کیږي.

| شماره | ولسوالی نوم | د سړو سیمو سواد زده کړې په کورسونو کې د نویو شامل شویو زده کوونکو شمیر | | | د تودو سیمو سواد زده کړې په کورسونو کې د نویو شامل شویو زده کوونکو شمیر | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | جمله | نارینه | ښځینه | جمله | |
| ۱ | اسعداباد | ۲۲۴ | ۳۰ | ۲۵۴ | | | | |
| ۲ | مره وره | ۱۷۷ | ۰ | ۱۷۷ | | | | |
| ۳ | شیګل | ۲۱۵ | ۰ | ۲۱۵ | | | | |
| ۴ | اسمار | ۱۸۹ | ۳۰ | ۲۱۹ | | | | |
| ۵ | دانګام | ۲۱۶ | ۰ | ۲۱۶ | | | | |
| ۶ | غازی اباد | ۱۷۵ | ۳۰ | ۲۰۵ | | | | |
| ۷ | ناړی | ۱۷۲ | ۵۹ | ۲۳۱ | | | | |
| ۸ | وټه پور | ۲۱۵ | ۰ | ۲۱۵ | | | | |
| ۹ | دره پیچ | ۱۸۰ | ۰ | ۱۸۰ | | | | |
| ۱۰ | چپه دره | ۲۰۹ | ۰ | ۲۰۹ | | | | |
| ۱۱ | سرکانړو | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۷۶ | ۲۴ | ۲۰۰ | |
| ۱۲ | نرنګ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۷۶ | ۰ | ۲۷۶ | |
| ۱۳ | خوکی | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۰۴ | ۰ | ۲۰۴ | |
| ۱۴ | خاص کونړ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۴۴ | ۰ | ۲۴۴ | |
| ۱۵ | نورګل | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۴۴ | ۰ | ۲۴۴ | |
| **ټولټال** | | **۱۹۷۲** | **۱۴۹** | **۲۱۲۱** | **۱۱۴۴** | **۲۴** | **۱۱۶۸** | |

**۱,۱۷ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونوکې د نالوستو کسانو جذب د بودیجې او ځانګړې سهم د نشتون له امله ندی ترسره شوی.

**۱,۱۸ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د رسمي ښوونکو لخوا د سواد زده کړې ۲۱۸بابه کورسونه په سړو او تودو سیمو ولسوالیو کې جوړ شویدي؛ چې له دغې جملې څخه ۸۴ بابه کورسونه په تودو سیمو کې رامنځته شویدي. خود بیرته راستنیدونکو، ملا امامانو او کوچیانو لپاره د سواد زده کړې ځانګړي کورسونه ندي رامنځته شوي.

**۱,۱۹ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو او کورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند په سرکانو ولسوالۍ کې د کونړ ختیځ لومړني ښوونځي په نوم یو باب خصوصي ښوونځی، نورګل ولسوالۍ کې نورګل خصوصي ښوونځی، نرنګ ولسوالۍ کې ضیاء القرآن دوهم او په ناړۍ ولسوالۍ کې ناړۍ امن خصوصي ښوونځی تأسیس شویدی.

همدارنګه په اسعداباد ښار کې د الزهور خصوصي لیسې د جواز په نوی شوی دی؛ او په ناړۍ کې د القلم، په دانګام کې د ابوعمر، په خاص کونړ کې د عزم مشرق او په څوکۍ کې د ویبښ ولس په نامه کورسونه تأسیس شویدي.

د نرنګ ولسوالۍ ضیاء القرآن خصوصي ابتدائیه ښوونځي متوسطې ته ارتقاء کړیده او د همدې ښوونځي او څوکۍ خصوصي ښوونځي جوازونه هم تمدید کړیدي.

**۱,۲۰ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو درې کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د یو باب الزهورخصوصي ښوونځي د ۲۰ تنه نارینه زده کوونکو درې کلنې نمرې تدقیق شوې چې په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکوي.

**۱,۲۱ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول.**
د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه هغه زده کونکو چې د مالي اړخه کمزوي وي خصوصي ښوونځیو او کورسونو ته ندي ورپیژندل شوي ځکه چې داسې زده کوونکو پوهنې ریاست ته مراجعه نه ده کړې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو آمریت لخوا په ۱٦ ولسوالیو کې یوه، یوه لیلیه دیني مدرسه تأسیس شوې او ۸٦ بابه نهاري دیني مدرسې تأسیس شویدي؛ همدارنګه د اسعداباد ښار پوهنې آمریت اړوند د یارګل مرکزي دارالحفاظ نوم د اسعداباد مرکزي دارالحفاظ ته او عبدالله بن عباس سالار باغ کلیوالي دیني مدرسې نوم د عبدالله بن عباس اندرسیر کلیوالي دیني مدرسې ته نوم بدلون مونډلی دی او د ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش په اړه د چا لخوا غوښتنه نده شوې.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د اته بابه خصوصي زده کړو مرکزونو(جامعة تعلیم القران والسنة، جامعة المحمدیه للبنین والبنات، مرکز العلوم الاسلامیه، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، شیګل خصوصي دیني مدرسې، شیخ محمد نقیب الله محسن خصوصي مدرسة، جامعة تعلیم القرآن شیګل او جامعة تعلیم بحرالعلوم) د جواز د

بنې د بدلون څخه کتنه او څارنه ترسره شوې ده او همدارنګه د اسعداباد ښار اړوند د ۲ بابه خصوصي زده کړو مرکزونو محمد بن اسماعیل البخاري خصوصي مدرسې او د تعلیم القران والسنة خصوصي دیني مدرسې جوازونه نوي شوي دي.

**۲,۳ فعالیت: د ۴۵۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

په ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت لخوا په ټولو ولسوالیو کې ۳۵۶ تنه علماء کرامو د خامسې دورې،۳۳۱ تنه علماء کرامو د عالیه دورې او همدارنګه ۹۲۵ تنو حافظانو سویې تثبیت شوي دي.

**۲,۴ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**

په ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو اړتیاوې معلومې شوي البته اړتیاوي یې ځکه ندي بشپړې شوي چې لوازم د پوهنې ریاست له لورې په قرارداد ورکول کیږي د قرار داد د بشپړیدو وروسته به ورته لوازم توزیع او نورې اړتیاوي به یې هم پوره شي.

**۲,۵ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په ټولو ولسوالیو کې ۱۶ بابه دیني مدرسو لپاره نوې لیلې تأسیس شوي دي چې په هره دیني مدرسه کې پنځوس تنه طالب العلمان لیلیه دي او همدارنګه د اسعداباد ښار اړوند یو باب دارالعلوم لپاره لیلیه رامنځته شوي ده چې ۵۰ تنه طالب العلمان په کې لیلیه دي؛ چې په مجموعې ډول د ۸۵۰ تنه طالب العلمان لپاره لیلیې رامنځته شوي دي.

**۲,۶ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې په ۱۳ ټولګیو کې ۱۸۷ تنه جدیدالشمول طالب العلمان؛ چې له دې جملې څخه په اسعدآباد مرکزي دارالعلوم کې ۳۴ تنه، ناړۍ دارالعلوم کې ۲۴ تنه، د چپې درې په دارالعلوم کې ۷۹ تنه او په څوکۍ دارالعلوم کې ۵۰ تنه جدیدالشمولان جذب شوي دي.

او په لومړۍ دوره کې ۱۴۶ تنه جدیدالشمول طالب العلمان؛ چې له دې جملې څخه په اسعدآباد مرکزي دارالعلوم کې ۱۳ تنه، په ناړۍ دارالعلوم کې ۲۵ تنه، په چپې درې دارالعلوم کې ۴۹ تنه او په څوکۍ دارالعلوم کې ۵۹ تنه نوي طالب العلمان جذب شویدي.

**۲,۷ فعالیت: د ۲۵۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت لخوا په ټولو ولسوالیو کې۱۰۲ نوي دیني مدرسې تأسیس شویدي چې ۹۸ بابه یې د نارینه وو لپاره او پاتې ۴ بابه یې د ښځینه وو لپاره په دانګام، اسعداباد او نورګل ولسوالیو کې تأسیس شوي او د نویو دارالحفاظونو د جوړولو لپاره د وزارت مقام له لوري حکم ندی شوی.

**۲,۸ فعالیت: په کونړ ولایت کې د ۱٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه نوي کلیوالي مدرسې او دارالحفاظونه د بودیجې نشتون له امله ندي جوړ شوي.

**۲,۹ فعالیت: په کونړ ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه عمومي او کلیوالي مدرسو لپاره د پوهنې وزارت له خوا تجهیزات نه دي راغلي اوهمدارنګه د مدرسو د سمبالولو لپاره بودیجه نه ده ځانګړې شوې.

## ۳. د کېفيت تضمين پروګرام

د کونړ ولايت پوهنې رياست په ۱۴۰۳ کال عملياتي پلان کې د لاسرسي برخې اړوند د کېفيت تضمين پروګرام کوم فعاليتونه وجود نه لري.

## ۴. سرچينې او اداره

**۴,۱ فعاليت: د ښوونيزو او اداري مرکزونو او نويو تاسيس شويو ښوونځيو ته د تشکيل او کوډونو ليږدول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ پوهنې رياست اړوند د ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونو ښوونځيو ته د ۱۴۰۲ کال تشکيل او کوډونه تکثير شوي او همدارنګه په ټولو امارتي ښوونځيو کې تطبيق شويدي.

**۴,۲ فعاليت: د ښوونځيو د تشکيل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او ليسې ته او نورو ښوونيزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ پوهنې رياست د پيچ درې پوهنې آمريت اړوند د سندرۍ منځني ښوونځي د ليسې دورې ته ارتقاء کړيده او له لومړني ښوونځي څخه منځني ښوونځي ته د لوړولو شرايط چا ندي پوره کړي.

**۴,۳ فعاليت: د طرحو، ساختارونو او تشکيلاتي احصايو نهايي کول او د منظورۍ او تطبيق په خاطر يې د رياست الوزرا لوړ مقام ته ليږل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ پوهنې رياست په کچه طرحې، ساختارونو او تشکيلاتي احصائيې نهايي کول د پوهنې وزارت مقام صلاحيت او همدارنګه د رياست الوزراء مقام څخه يې منظورې اخېستل هم د پوهنې وزارت پورې تړاؤ لري.

**۴,۴ فعاليت: د بشري سرچينو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولايتي ادارو د دندو د لايحو بيا کتنه او معياري کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ پوهنې رياست په کچه د بشري سرچينو د پروسو ساده کول او سمون په موخه د مرکز، ولايت او همدارنګه د مضمون په اساس د ښوونيزو مرکزونو د بستونو د دندو لايحو څخه د پوهنې وزارت له لورې بيا کتنه نده تر سره شوې.

**۴,۵ فعاليت: د برېښنايي سيستم د تطبيق، د جنسونو د محاسبې او عامه جايدادونو (جنسونو، سامانونو، وسايطو اونورو... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د يو تخنيکي ټيم ټاکل او لېږل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ پوهنې رياست ته د برېښنايي سيستم د تطبيق، د جنسونو د محاسبې او عامه جايدادونو (جنسونو، سامانونو، وسايطو اونورو... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه تخنيکي ټيم ندی راليږل شوی ځکه چې د تخنيکي ټيم ټاکل او ليږل د وزارت مقام صلاحيت دی.

**۴,۶ فعاليت: په کونړ ولايت کې د ديخيلو ادارو لخوا د ماينونو او چاوديدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلينو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمينه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ويشل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ پوهنې رياست اړوند د محافظت او مصؤنيت مديريت لخوا په ۱۵ ولسواليو کې ۱۴۳۰ تنه ښوونکو او ۱۴۰۹۰ تنه زده کوونکو ته د ماينونو او چاوديدونکو موادو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی د پوسترونو پواسطه ترسره شوی دی.

**۴,۷ فعاليت: په کونړ ولايت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بوديجې څخه د بنسټيزو نيمه کاره پروژو (ښوونځيو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې په کونړ ولايت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ هـ ش کال بوديجې نشتون له امله د بنسټيزو نيمه کاره پروژې ندي بشپړې شوي.

**۴,۸ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د اسلامي امارت له بودیجې څخه ساختماني پروژه نده جوړه شوې خو د همکارو موسیسو په برخه کې د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې لخوا ۲۹ بابه تشنابونه په دولس ولسوالیو ( اسعداباد، نرنگ، څوکی، خاص کونړ، نورگل، مره وره، شیگل، اسمار، غازي اباد، وټه پور، دره پیچ او چپې درې ) کې نوي جوړ شوي دي.

او همدارنگه د شانتي رضاه کارې ټولنې لخوا په څوکۍ ولسوالۍ کې د څوکۍ زوړ کلي ابتدائیه ښوونځي تعمیر بشپړ او گټې اخیستنې ته سپارل شوی دی؛ او د UNHCR مؤسسې لخوا د څاگي مختلط لیسې تعمیر په جوړیدو کار روان دی او د واش په برخه کې د یونسیف مؤسسې لخوا په گنجگل هلکانو لیسه، باروگۍ هلکانو متوسطه او وټه پور هلکانو لیسه کې د صحي اوبو څاگانې، تشنابونه او اوبو مکمل سیستم جوړ او د گټې اخېستنې جوگه دي.

**۴,۹ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د اسلامي امارت له بودیجې څخه ۲۶ بابه د ښوونځیو تعمیرونه په ۱۲ولسوالیو ( اسعد اباد، منوره، سرکانو، څوکی، نورگل، وټه پور، پیچ دره، چپه دره، اسمار، دانگام، غازی اباد، ناړۍ) کې ترمیم شویدي او همدارنگه د ټولنې د همغږۍ او پراختیا مؤسسې لخوا ۱۸۰ بابه کلیوالي او چټکو زده کړو ټولگي او ۷ بابه تشنابونه په دولس ولسوالیو ( اسعداباد، نرنگ، څوکی، خاص کونړ، نورگل، مره وره، شیگل، اسمار، غازي اباد، وټه پور، دره پیچ او څپه درې ) او په نورگل ولسوالۍ کې ستاسې غړ مؤسسې لخوا دوه ښوونځیو سینزایو نجونو متوسطې او نورگل نجونو لېسې تعمیرونه ترمیم شویدي.

**۴,۱۰ فعالیت: د کونړ ولایت څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو قیمتونه د ټاکل شوي هیئت له لورې د ولایت په کچه اخیستل شوي او د ساختماني موادو نرخونه په دقیق ډول راټول شوي دي.

**۴,۱۱ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د چپې درې، منورې او دانگام ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند د دیني مدرسو او ښوونځیو لپاره د معارف پاله خلکو لخوا ۵ جریبه او ۱۸ بسوې ځمکه تدارک شویده.

**۴,۱۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د اسعدآباد ښار اړوند ۱۷ جریبه ۱۶۵۲ متره مربع ځمکه په پنځه ساحو (شهید معلم سلیم لیسې دوه قضیې، بي بي فاطمې لیسه، کونړ عالي دارالمعلمین، سرکانو بحراباد لیسه او نرنگ دارالأیتام) کې غصب ۶ قضیې چې د دوسیو تعقیب یې په محاکمو کې جریان لري.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د کونړ ولایت پوهنې ریاست استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کیدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې ترپایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی.

## ۳برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رښو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱،۱ فعالیت: د کونړ ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د لرې پرتو او محرومو سیمو د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه نده ترسره شوې ځکه یاده څارنه د پوهنې وزارت لخوا کمیټه ټاکل کیږي او بیا د کمیټې له لارې څارل کیږي چې تر اوسه پورې یاده کمیټه نه ده ټاکل شوې.

**۱،۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/ هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسساتو د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو څخه څارنه او ډاډ ندی ترلاسه شوی ځکه چې نوموړې پروسه د پوهنې وزارت له لورې ترسره کیږي.

**۱،۳ فعالیت: په کونړ ولایت کې د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پېژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت په کچه د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پېژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس له مرکز څخه د وزارت له لورې ټاکل شوي دري نفري هیئت تر اوسه پورې څارنه نده ترسره کړې.

**۱،۴ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د وزارت مقام له لورې د کادري غړو علمي رتبه نده تصویب شوې.

**۱،۵ فعالیت: په کونړ ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې په کونړ ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ۲۹ بابه خصوصي زده کړو ښوونځیو او ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه په ټولو ولسوالیو کې په تکراري توګه څارنه ترسره شوې ده.

**۱،۶ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د ۴۳۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو، ۲۹ بابه د خصوصي زده کړو ښوونځیو، ۱۲۴۵ بابه سیمه ییزو ټولګیو او همدارنګه د ٦۲ بابه چټکو زده کړو ټولګیو څخه د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا په تکراري توګه حمایوي څارنه ترسره شویده.

**۱,۷ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۱۹۴۴ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي علمي غړو لخوا په ټولو ولسوالیو کې د ښوونکو د درسونو د مشاهدې له لارې د ۳۴۷۴ تنه ښوونکو، ۶۱۹ تنه سر ښوونکو، ۴۷۸ تنه مدیرانو او ۴۸۰ تنه د سواد زده کړې ښوونکو له اداري او تدریسي بهیر څخه په مکرر ډول کتنه تر سره شویده چې په پایله کې یې روزنیزې اړتیاوې په ګوته شوي او د نیمګړتیاو په اړه ورته اړینې لارښوونې شوي دي.

**۱,۸ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د ۱۶ ولسوالیو څخه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزي غړو لخوا د سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدي، دلو او حوت میاشتو ۹ علمي راپورونه راټول شوي له تحلیل او توحید وروسته پوهنې وزارت مقام ته استول شوي دي.

**۱,۹ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ ګډه نمونوي څارنه د پوهنې وزارت له لورې نده ترسره شوې.

**۱,۱۰ فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په کونړ ولایت کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د نجونو د زده کړو پر وړاندې ستونزې او ننګونې د پوهنې وزارت د لارښوونې نشتون له امله ندي په ډاګه شوي.

**۱,۱۱ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو لپاره چې له هیواد بهر زده کړې کوي د یوتن زده کونکي لپاره ټرانسکرپټ برابر شوی او د ۹ تنو زده کوونکو تعلیمي سوابق ترتیب او اړوند اتشو ته استول شویدي.

**۱,۱۲ فعالیت: د سیمه ایزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لیږدول کیږي؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د همکارو مؤسساتو د تفاهم نامې له مخې د سیمه ایزو ټولګیو ۱۳۸۳۹ تنه نارینه او ۱۶۸۸۴ تنه ښځینه زده کوونکي او همدارنګه ۶۰۰۹ تنه ښځینه د چټکو زده کړو ټولګیو زده کوونکو احصائیه راټوله شوي خو تر اوسه پورې د تعلیمي همکاره مؤسسو قراردادونه پای ته ندي رسیدلي له دی امله زده کوونکي دولتي ښوونځیو ته ندي لیږل شوي.

**۱,۱۳ فعالیت: په بیړنۍ حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت لخوا په ټول ولسوالیو کې له بهر څخه د بیرته راستنیدونکو ۱۰۰۷ تنو زده کوونکو او همدارنګه د یو باب تړل شوي ښوونځي د ۱۵ تنو زده کوونکو احصائیه راټوله او توحید شوې ده.

**۱,۱۴ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته د هېواد په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د الیندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د روغتیا مدیریت لخوا په ټولو ولسوالیو کې د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته په ۵۱۵ بابه ښوونیزو مرکزونو او ۱۴۷۸ محلي ټولګیو کې د کولمو د چینجیو د لمنځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره شوی دی او ۲۰۸۸۳۱ تنه زده کوونکو ته د البندازول ټابلیټونه ویشل شوي دي.

**۱,۱۵ فعالیت: په کونړ ولایت کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د څارندوی مدیریت لخوا په ټولو ولسوالیو کې د څارندوی ټیمونو له لارې په ۳۶ بابه ښوونځیو کې دمخدره موادو دمخنیوي پر وړاندې د عامه پوهاوی پروګرامونه تر سره شویدي.

**۱,۱۶ فعالیت: د وړتیاوو د معلوملو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**
۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د بدني روزنې مدیریت لخوا د وړتیاوو د معلوملو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د زده کوونکو د پیژندنې په موخه ۲۱ ورزشي سیالۍ ترسره شویدي او په پایله کې ۱۰ تنه زده کوونکي ملي او بین المللي سیالیوته انتخاب شویدي.

**۱,۱۷ فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**
۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت په کچه ۳ غونډې د مرستیال والي په مشرۍ او همدارنګه د ولسوالیو په کچه ۳۴ غونډې د ولسوالانو په مشرۍ جوړې شویدي.

**۱,۱۸ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیرد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**
۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست په کچه د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیرد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول په اړه چا غوښتنه نده کړې نو ځکه یاد فعالیت ندی ترسره شوی.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو دیپلوماتیک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت لخوا د ټولو ولسوالیو د ۱۸۱ تنه علماؤ کرامو د دولسم ټولګیو او همدارنګه د ۳۴۸ تنه علماؤ کرامو د خوارلسم ټولګیو د سندونو ارزونه ترسره شویده.

**۲,۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت په کچه د مسلکي پراختیا غړو د نه استخدام له امله یې له فعالیتونو څخه څارنه او کنټرول ندی ترسره شوی.

**۲,۳ فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کادري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت په کچه ۵۷ تنه استادانو کادري معاشونه اجراء شوي دي او د استادانو د علمي رتبو لوړیدل د وزارت د هدایت سره سم ځنډېدلي دي.

**۲,۴ فعالیت: له ۸۷۸ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۸۷۸ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت لخوا د ۴۷۵ تنو زده کوونکو څخه یو ځل مشترکه ازموینه اخیستل شوې د مشترکې ازموینې او ارزونې له لارې د بیلابیلو ولسوالیو د دولسم ټولګیو ۱۲۶ تنه علماء کرامو او د ۱۴ ټولګیو ۳۸۷ تنه علماء کرام ته سندونه ویشل شوي دي.

**۲،۵ فعالیت: په کونړ ولایت کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت لخوا په دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړون معینیت لخوا د رسمي هدایت د نشتون له امله د قرانکریم سیالی ندي ترسره شوي.

## ۳. د کیفیت تضمین پروګرام

د کونړ ولایت پوهنې ریاست په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان کې د مدیریت برخې اړوند د کیفیت تضمین پروګرام کوم فعالیتونه وجود نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴،۱ فعالیت: په کونړ ولایت کې د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول ( د خالي بستونو په ډاګه کول)؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند پر تشکیل د څار او راجستریشن مدیریت لخوا د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کولو لمځې په اسلامي زده کړو آمریت کې ۵۱۶ خالي بستونه او همدارنګه دسواد زده کړې، عمومي زده کړو آمریت او د سرچینو او دارې آمریت اړوند ۹۰ خالي بستونه په ډاګه شویدي چې تر اوسه پورې په کې تعینات نه دي ترسره شوي.

**۴،۲ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند پر تشکیل د څار او راجستریشن مدیریت لخوا د وزارت لخوا په جوړ شوي ځانګړي ډیټابیس کې د ۷۵۱ تنه ښوونکو او کارکوونکو وړاندیز شوي تغیرات ثبت او راجستر شویدي.

**۴،۳ فعالیت: د تبدیلی او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړونده مدیریتونو او آمریتونو اوهمدارنګه د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د ۳۵۹ تنه ښوونکو خالي بستونو معلومات محترم وزارت مقام ته ورکړل شوي دي.

**۴،۴ فعالیت: د ۶۲۰هویت/پیژند کارتونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري ۱۳۶ تنو کارکوونکو ته د هویت کارتونه چاپ او ویشل شوي دي.

**۴،۵ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه ۹۸۱ تشو بستونو کې نوي کارکوونکي پر دندو ګمارل شویدي چې له دې جملې څخه ۲۶۱ تنه یې کارکوونکي، ۱۷۲ تنه یې ښوونکي او ۵۴۸ تنه یې استادان دي.

**۴،۶ فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول ) بیاکتل او د پراووښو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست په کچه د ۸۰۷ تنه ښوونکو قدمونو ارتقاء کړې ده او د ښوونکو د بستونو د ارتقاء د وزارت مقام له لورې معطل شوي دي.

**۴,۷ فعاليت: د کونړ ولايت په کچه په شرايطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست په کچه په شرايطو برابر ۲۴ تنه کارکوونکي تقاعد شويدي چې له دې جملې څخه د ۴ تنو کارکوونکو او ۲۰ تنو ښوونکو تقاعد اجراء شوی دی.

**۴,۸ فعاليت: د راتلونکي امنيتي پيښو د مخنيوي په موخه، له کونړ ولايت څخه مياشتني، درې مياشتني او کلني امنيتي راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست اړوند د محافظت او مصؤنيت مديريت لخوا ۹ مياشتني او ۳ درې مياشتني امنيتي راپورونه راټول شوي دي چې له دغې جملې څخه يوه امنيتي پيښه د وټه پور پوهنې آمريت اړوند د دهوز هلکانو ليسې د زده کوونکي وژنه، د دره پيچ پوهنې آمريت اړوند د ورديش ابتدائيه ښوونځي د يو تن زده کوونکی په تبرگي وهل، د دانگام پوهنې آمريت اړوند د لوی گوريگا منځني ښوونځي يو تن زده کوونکی د جنگ په مهال په ټوپک ويشتل شوی او مړ شوی او د نرنگ پوهنې آمريت اړوند د نجونو ليسې يو تن ښوونکي د جنگ په مهال په چړو وهل شوی او وژل شوی دی او همدارنگه په درې مياشتني راپورونو کې درې تنه زده کوونکي او يو تن ښوونکی په وټه پور، نرنگ او نورگل ولسواليو کې په ډزو وژل شويدي، د پيچ درې د يخې چينې يوتن زده کوونکی په تمانچه زخمي شوی او د څوکی ولسوالی د چلس ابتدائيه ښوونځي يوتن ښوونکی په تبرگي وهل شوی او وژل شوی دی.

**۴,۹ فعاليت: د کونړ ولايت په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسايطو په خدمتي توگه تنظيمول او توظيفول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست په کچه يو عراده بار وړونکی موټر د تربيه معلم د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم د لچگلي سيمي ته دوه ځلويښت ځله تللی چې ټول مالونه يې د ساينس مديريت نوې ودانۍ ته انتقال کړي دي.

**۴,۱۰ فعاليت: د کونړ ولايتي ادارو لپاره د مطبوع او غير مطبوع (چاپي او غير چاپي ) قرطاسيې او مينځوونکو موادو ويشل؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست اړوند د ۱٦ ولسواليو پوهنې آمريتونو ته د خدماتوعمومي مديريت لخوا ۲۰ قلمه مطبوع او ۴۲ قلمه غير مطبوع قرطاسيه انتقال او ويشل شوې ده.

**۴,۱۱ فعاليت: د پوهنې اړوند رياستونو د ښوونځيو زده کوونکو لپاره۱۰۰۰ پايې ميزونو او چوکيو توليدول او جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست په کچه د اسعدآباد ښار اړوند درې بابه ليسو ( عمراخان عالي ليسه، کرهالي نجونو او فاطمي نجونو) زده کوونکو لپاره ۵۰۰ پايې ميزونه او چوکۍ ترميم شويدي او د پاتې ۵۰۰ ميزونو او چوکيو د ترميم د کونړ مستوفيت لخوا يې د ميخونو د خريدارۍ حواله ځنډيلي وه او د ولايتي هيئت لخوا يې تثبيت په خپل وخت ونه شو او همدارنگه مالي کال پای ته رسيدلی وو او ټول مالي امورات يې د مستوفيت لخوا بند پاتي شو.

**۴,۱۲ فعاليت: د ولايتونو پوهنې رياستونو د نه بشپړ شويو پراختيايي ساختماني پروژو د قرارداد له تطبيق څخه مديريت کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د کونړ ولايت پوهنې رياست په کچه داسې پراختيايي ساختماني پروژه شتون نه لري چې قرارداد يې شوی وي او اجراء شوی نه وي.

**۴,۱۳ فعاليت: د کونړ ولايت په کچه د اړتيا او لاړښوونې سره سم د ساختماني او ترميماتي پروژو د تطبيق له بهير څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د اړتیا او لاربښوونې سره سم د حفظ مراقبت املاکو او مکاتبو عمومي مدیریت لخوا د ځوکۍ پوهنې آمریت اړوند د زوړ کلي د نجونو لومړني ښوونځي، د نرنګ هلکانو لیسې تعمیر او د اسعداباد ښار اړوند د ځاګې مختلط لیسې تعمیر د بنسټیزې ساختماني پروژې له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده او همدارنګه د ۲۶ بابه ترمیماتي پروژو له تطبیق څخه په ۱۶ ولسوالیو کې څارنه ترسره شوې ده.

**۴،۱۴ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه ۴۹ بابه دوکانونه په کرایه ورکړل شویدي. چې له دې جملې څخه ۲۵ بابه دوکانونه د عمراخان لیسې ترڅنګ موقعیت لري چې في دوکان د میاشتې په ۵۶۰۰ افغانۍ په کرایه ورکړل شوي دي او همدارنګه ۲۴ بابه دوکانونه چې د اسعدآباد هلکانو لیسې ترڅنګ موقعیت لري في دوکان د میاشتې په ۳۱۰۰ افغانۍ کرایه ورکړل شوي دي چې جمله د کال ۱۰۴۴۰۰ افغانۍ د دولت خزانې ته تحویلیږي او همدارنګه ۲۱ بابه خصوصي حویلۍ د دولتي ښوونځیو لپاره چې ودانۍ نه لریې په کرایه نیول شویدي.

**۴،۱۵ فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول.**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندولو وروسته ۹۴ بابه ښوونځیو تعمیرونه په بیلابیلو ولسوالیو کې اساسي ترمیم ته اړتیا لري.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵،۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د دریم او څلورم بستونو ازموینه نده اخیستل شوې نو ځکه د اړوندو معینیتونو سره همغږي هم نده شوې.

**۵،۲ فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یادابنت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې وزارت مقام له لورې دیوې داخلي همکارې مؤسسې (د ځوانانو دهمغږۍ او بشري پرمختګ اداري) سره هوکړه لیک لاسلیک شوی چې د کونړ ولایت په پنځه ولسوالیو کې د ابتدائیه دورې زده کوونکو لپاره د زده کړې آغیزمن چاپیریال رامنځته کولو په برخه کې او همدارنګه ۱۸۰۰ تنه زده کوونکو ته قرطاسیه توزیع کولو برخه کې خپل کارونه بشپړ کړیدي او همدارنګه د وزارت مقام د خارجي اړیکو ریاست څخه د دوه داخلي همکارو مؤسساتو (وطن پرمختیا او نوښت مؤسسه او ستاسی غږ ) مؤسساتو تفاهم نامې رارسیدلی دي.

**۵،۳ فعالیت: د کونړ ولایت ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او کړنلارو د لیږد را لیږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د زده کوونکو د سه پارچو په اړه دیو کال په تنزیل باندې د یوې برنامې څخه بلې برنامې ته یو مکتوب متحدالمال شوی دی، د پوهنې ریاست داخلي آمریتونو، مدیریتونو او ولسوالیو پوهنې آمریتونو سره د دوامداره همغږي او اړیکو ټینګولو برخه کې ۷۳ متفرقه او متحدالمال مکتوبونه تعقیب شویدي، د افغان پوست له لارې او ولایتي ادارو څخه ۱۷۲ داني مکتوبونه د دفتر عمومي مدیریت ته رارسیدلي او له ارشیف وروسته اړونده برخو ته د ارشیف په کتاب کې تسلیم شویدي.

دمرکزي اداري څخه ۱۳۴ سندونه ترلاسه شویدي چې؛ د مولوي گلبدین دلاور دسرپرستۍ په اړه، د ۲۷ نویو ولسوالیو د منظورۍ په هکله او د لاسلیک پر ځای مهر کې لاسلیک قانوني جواز نه لرلو په اړه ټولو برنامو ته سندونه تکثیر شویدي او همدارنگه د امیرالمؤمنین حفظه الله ۷۸ فرمانونه د پوهنې ریاست اړونده ټولو برنامو او مدیریتونو ته تکثیر شوي دي.

**۵,۴ فعالیت: د کونړ ولایت څخه د تر لاسه شویو راپوروونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت څخه د تر لاسه شویو راپوروونو تعقیب، کنترول او انسجام او همدارنگه کونړ ولایت ته د پوهنې وزارت د هیئت سفر د وزارت مقام له لورې ندی تنظیم شوی او کونړ د پوهنې رئیس مولوي محیب الله حیدري د (۷۱۳) ۱۴۴۶/۰۴/۳۰ گڼه لیک په اساس د پوهنې وزارت د دفتر ریاست او نورو اړونده ریاستونوته سفرکړی ؤ.

**۵,۵ فعالیت: د کونړ ولایت د پوهنې ریاست د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لورې د اسنادو هر اړخیزه کتنه نه ده ترسره شوې.

**۵,۶ فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروگرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د وزارت مقام له لورې د کوچیانو لپاره د ښوونیزو چارو د ملاتړ او تقویتي پروگرامونه نه دي تنظیم شوي.

**۵,۷ فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د رهبرۍ د ځانگړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست د دفتر عمومي مدیرت لخو د دفتري کارونو څخه په سمه توگه مدیریت، او د داخلي مدیریتونو تر منځ د ښې همغږۍ رامنځته کولو په موخه ۴ میاشتني مجلسونه دایر شوي دي چې پریکړې یې د پوهنې ریاست داخلي مدیریتونو او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته تکثیر شوي دي.

**۵,۸ فعالیت: په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه یو عملیاتي پلان او د ولسوالیو په کچه ۱۶ عملیاتي پلانونه تحلیل، او توحید شوي او له توحید وروسته پوهنې وزارت مقام ته استول شوي او تأیید شویدي.

**۵,۹ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست په کچه د پلان عمومي مدیریت لخوا د ټولو آمریتونو په همغږۍ د پوهنې وزارت د څلورم ستراتیژیک پلان مسوده ترتیب او د پلان عمومي ریاست ته استول شویده.

**۵,۱۰ فعالیت: د کونړ ولایت په کچه د پراختیایي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست د پلان عمومي مدیریت لخوا د ۱۶ ولسوالیو پوهنې آمریتونو او د پوهنې ریاست ودانیو لپاره او همدارنگه ۲۶۷ بابه ښوونځیو لپاره چې سرپناه نه لري کانسپټ نوټونه ترتیب شوي او د پوهنې وزات د پلان عمومي ریاست ته استول شویدي او همدارنگه د شلتن ولسوالۍ د پوهنې آمریت ودانۍ لپاره کانسپټ نوټ جوړ شوی او اقتصاد ریاست ته استول شوی دی.

**۵,۱۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د کونړ ولایت د پوهنې ریاست سره شریکول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست ته د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان مسوده د پلان ریاست لخوا را ستول شوي او دمشورې او نظر غوښتلو په موخه ټولو برنامو په ګډون د ۱۶ ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته استول شوي او په مثبت ډول سره ځواب شوي دی او څلورم ستراتیژیک پلان مسوده کارجریان لرې په نیږدې راتلونکي کې به ترینه پلان ترتیب شي.

**۵,۱۲ فعالیت: د کونړ ولایت پوهنې رئیس او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست د پلان عمومي مدیریت لخوا د پوهنې ریاست محترم رئیس صاحب د ۱۴۰۳ کال کاري پلان د منظورۍ په موخه پوهنې وزارت ته استول شوی او د بیا ځلې رسمي هدایت په اساس یې د کارې پلان فارمټ د یو لړ تغیراتو وروسته د پوهنې وزارت لخوا منظور شوی او د پوهنې ریاست اړونده مراجعو ته رسماً استول شوی دی او همدارنګه د ۱۶ ولسوالیو پوهنې آمریتونو او د پوهنې ریاست ۱۹ داخلي مدیریتونو د ۱۴۰۳ کال کاري پلانونه ترتیب، تحلیل او منظور شویدي.

**۵,۱۳ فعالیت: د کونړ ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کونړ ولایت پوهنې ریاست اړوند د تفتیش مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په کچه د عادي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه په هره میاشت کې پلټنه او کتنه ترسره شویده چې د مالي مدیریت د معلوماتو په اساس په ۱۴۰۳ مالي کال لپاره (۷۶۱۹۷۶۵۶۷) افغانۍ ورکړل شوي چې له دغې جملې څخه په ټول کال کې (۶۵۴۸۳۹۷۳۸) افغانۍ مصرف شوي او (۱۰۷۱۳۶۸۲۹) افغانۍ یې پاتې دي.

